**دافغانستان اسلامی جمهوریت**

**دعدلیی وزارت**

# رسمی جریده

**فوق العاده گنه**

**دخصوصی روغتیایی مرکزونو مقرره**

**مقرره مراکز صحی خصوصی**

---

دخپریدو نیټه د ۱۳۹۱هـ.ش کال د زمری دمیاشتی (۲۱) پرله پسی نمبر (۱۰۸۴)

تاریخ نشر : ( ۲۱)اسد سال ۱۳۹۱ هـ. ش نمبرمسلسل (۱۰۸۴)

**در این شماره :**

مقرره مراکز صحی خصوصی از صفحه (۱- ۴۹)


**د امتیاز خاوند : دعدلیی وزارت**

مسؤل چلوونکی : قانونمل محمدرحیم :دقیق:

۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷

ددفتر تیلفون : ۲۱۰۳۳۷۵

مرستیال : نور علم ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸

مهتمم: محمدجان ۰۷۰۰۳۹۵۲۹۲

ویب سایت : www.moj.gov.af

**قیمت این شماره : ......................................(۴۰) افغانی**

**تیراژ چاپ اول :........................................(۴۰۰۰)جلد**

**آدرس :وزارت عدلیه ، ریاست نشرات ، چهارراهی پشتونستان ، کابل**

**دخصوصي روغتيايي مرکزونودمقررې**
**دنافذېدو په هکله**
**دافغانستان داسلامي جمهوريت**
**دوزيرانو دشورې**
**مصوبه**

ګڼه : (۷)
نېټه: ۱۳۹۱/۲/۱۸

دخصوصي روغتيايي مرکزونو مقرره چې دافغانستان داسلامي جمهوريت دوزيرانو شورې د ۱۳۹۱/۲/۱۸ نېټې په غونډه کې ، په (۷) فصلونو او(۵۳) مادوکې تصويب شوې ده، منظوروم.

دامصوبه له مقررې سره يوځای ، په رسمي جريده کې د خپرېدو له نېټې څخه وروسته نافذېږي .

**حامد کرزی**
**دافغانستان داسلامي جمهوريت رئيس**

**مصوبهٔ**
**شورای وزيران جمهوری**
**اسلامی افغانستان**
**درمورد انفاذ مقررهٔ مراکز صحی**
**خصوصی**

شماره :(۷)
تاريخ : ۱۳۹۱/۲/۱۸

مقررهٔ مراکز صحی خصوصی را که در جلسهٔ مؤرخ ۱۳۹۱/۲/۱۸شورای وزيران جمهوری اسلامی افغانستان به داخل (۷) فصل و(۵۳) ماده تصويب گرديده، منظور می دارم.

اين مصوبه همراه با مقرره از تاريخ نشر درجريدهٔ رسمی نافذ می گردد .

**حامد کرزی**
**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان**

## فهرست مقررۀ مراکزصحی خصوصی

### فصل اول

### احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ اول: | مبنی | ۱ |
| مادۀ دوم: | اهداف | ۱ |
| مادۀ سوم: | اصطلاحات | ۲ |
| مادۀچهارم: | ساحۀ تطبیق | ۵ |


### فصل دوم

### ایجاد مراکز صحی خصوصی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ پنجم: | شرایط مالک | ۵ |
| مادۀ ششم: | شرایط ایجاد | ۶ |
| مادۀ هفتم: | تصنیف شفاخانه ها | ۹ |
| مادۀ هشتم: | شفاخانۀ عمومی | ۹ |
| مادۀ نهم: | شفاخانۀ اختصاصی | ۱۷ |
| مادۀ دهم: | جواز فعالیت | ۱۸ |
| مادۀ یازدهم: | سنداعتباردهی | ۱۸ |
| مادۀ دوازدهم: | استخدام رئیس | ۱۹ |
| مادۀ سیزدهم: | استخدام مسئول | ۲۱ |
| مادۀ چهاردهم: | مکلفیت مالک | ۲۱ |
| مادۀ پانزدهم: | تغییرات | ۲۲ |
| مادۀ شانزدهم: | شفاخانۀ مختلط | ۲۲ |
| مادۀ هفدهم: | تغییرمکان | ۲۳ |

**فصل سوم استخدام**


مادۀ هجدهم: استخدام کارکنان ........................ ۲۴
مادۀ نزدهم: کارنکردن در اوقات اجرای وظیفه ........................ ۲۵
مادۀ بیستم: حقوق کارکنان ........................ ۲۵
مادۀ بیست ویکم: ارتقای ظرفیت کارکنان مسلکی ........................ ۲۷


**فصل چهارم کمیسیون ها**


مادۀ بیست ودوم: کمیسیون حل منازعات کاری ........................ ۲۷
مادۀ بیست وسوم: کمیسیون حل منازعات طبی ........................ ۲۹
مادۀ بیست وچهارم: کمیسیون تعیین حق الاجرت (فیس) ........................ ۳۱


**فصل پنجم مکلفیت های مراکز صحی خصوصی**


مادۀ بیست وپنجم: رعایت معیارهای صحی درعرضۀ خدمات ........................ ۳۳
مادۀ بیست وششم: رعایت سایر موارد در عرضۀ خدمات ........................ ۳۴
مادۀ بیست وهفتم: کسب رضایت ........................ ۳۶
مادۀ بیست وهشتم: لباس مخصوص ........................ ۳۷
مادۀ بیست ونهم: سیستم آبرسانی وکانالیزاسیون ........................ ۳۷
مادۀ سی ام: خدمات اجساد ........................ ۳۷
مادۀ سی ویکم : وسایل الکترونیکی ........................ ۳۸
مادۀ سی ودوم : مطبخ وطعام خانه ........................ ۳۸
مادۀ سی وسوم: دفع کثافات ........................ ۳۹
مادۀ سی وچهارم: ریکارد صحی ........................ ۴۰
مادۀ سی وپنجم : نمونۀ مهر وامضاء ........................ ۴۱
مادۀ سی وششم : ارایۀ گزارش به وزارت صحت عامه ........................ ۴۱

## فصل ششم
## احکام تأدیبی

مادۀ سی وهفتم : تأدیب........................................ . . . . . ....۴۲
مادۀ سی وهشتم: تعقیب عدلی........................................ . . . . . .....۴۳
مادۀ سی ونهم : اشتهارات........................................ . . . . . .....۴۴

## فصل هفتم
## احکام متفرقه

مادۀ چهلم : حق الاجرت (فیس)........................................ . . . . . . . ..۴۴
مادۀ چهل ویکم : ادغام........................................ . . . . . . . ..۴۵
مادۀ چهل دوم : فروش و انتقال ملکیت ........................ . . . . . . .....۴۶
مادۀ چهل وسوم : توقف فعالیت ........................................ . . . . . . . ...۴۷
مادۀ چهل وچهارم : تدریس درمرکز صحی خصوصی ........................ . . . . . . ..۴۷
مادۀ چهل وپنجم : نظارت ، بررسی و کنترول ........................ . . . . . . . ...۴۸
مادۀ چهل وششم: خدمات عاجل وحیاتی........................ . . . . . . . ...۴۹
مادۀ چهل وهفتم : چک لست........................................ . . . . . . ..۴۹
مادۀ چهل وهشتم : مکلفیت اشخاص ........................................ . . . . . . ...۵۰
مادۀ چهل ونهم : کسب جواز فعالیت مجدد........................................ . . . . . . ..۵۰
مادۀ پنجاهم : پرداخت مالیات........................................ . . . . . . . . .۵۱
مادۀ پنجاه ویکم : تحویل مبالغ حاصله ........................ . . . . . . ....۵۱
مادۀ پنجاه ودوم : وضع لوایح ،طرزالعمل ها ورهنمود ها ........................ . . . . . . ..۵۱
مادۀ پنجاه وسوم : انفاذ........................................ . . . . . . ..۵۲

# د خصوصي روغتيايي مرکزونو مقرره

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبنيٰ**

**لومړۍ ماده:**

دغه مقرره د عامې روغتيا د قانون په څوارلسمه ماده کې د درج شوي حکم له مخې، وضع شوې ده.

**موخې**

**دوه يمه ماده:**

ددغې مقررې موخې عبارت دي له:

۱- د ښو روغتيايي خدمتونو وړاندې کول.

۲-دخصوصي روغتيايي مرکزونو تأسيسول، تنظيمول او دارونلوچارو سمون ورکول.

۳- روغتيايي خدمتونوته د هېواد د اتباعو لاسرسي.

۴- د روغتيايي خدمتونو د وړاندې کولو په پرمختيا او پراختيا کې د خصوصي متشبثينو د برخې اخيستنې او ګډون د

# مقررهٔ مراکز صحی خصوصی

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادهٔ اول:**

این مقرره به تأسی از حکم مندرج مادهٔ چهاردهم قانون صحت عامه، وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادهٔ دوم:**

اهداف این مقرره عبارت اند از:

۱- عرضهٔ خدمات صحی بهتر.

۲- تأسیس، تنظیم وانسجام امور مربوط به مراکز صحی خصوصی.

۳- دسترسی اتباع کشور به خدمات صحی.

۴- فراهم نمودن زمینهٔ سهم گیری و مشارکت متشبثین خصوصی در انکشاف وتوسعهٔ ارایهٔ خدمات

زمينې برابرول.

۵- د خصوصي او دولتي روغتيايي مرکزونو ترمنځ د تجربو راکړه ورکړه او له طبي اغېزمنو او بريالیو تګلارو څخه ګټه اخيستل.

۶- د خصوصي روغتيايي مرکزونو له فعاليتونو څخه څارنه.

**اصطلاحګانې**

**دريیمه ماده:**

لاندې اصطلاحګانې پدې مقرره کې لاندني مفاهيم افاده کوي:

۱- خصوصي روغتيايي مرکزونه: روغتونونه، کلينيکونه، د فزيکي درملنې مرکزونه او راديولوژۍ مرکزونه دي.

۲- روغتون: هغه روغتيايي مرکز دی چې د بستر د ننه او بهر دکلينيکي خدمتونو او په مختلفو برخو او ديپارتمنتونو کې د زده کړې په منظور فعاليت کوي.

۳- کلينيک: هغه روغتيايي مرکز دی چې د پښوپه سر(سراپا) د کلينيکي خدمتونو د وړاندې کولو او د اړو کسانو د لومړنيو

صحی.

۵- تبادلۀ تجارب میان مراکز صحی خصوصی و دولتی و استفاده از روش های مؤثر و مؤفق طبی.

۶- نظارت از فعالیت های مراکز صحی خصوصی.

**اصطلاحات**

**مادۀ سوم:**

اصطلاحات آتی در این مقرره مفاهیم ذیل را افاده می نماید:

۱- مراکز صحی خصوصی: شامل شفاخانه ها، کلینیک ها، مراکز تداوی فزیکی و مراکز رادیولوژی می باشند.

۲- شفاخانه: مرکز صحی است که به منظور عرضۀ خدمات کلینیکی داخل و خارج بستر و آموزش در بخش ها و دیپارتمنت های مختلف فعالیت می نماید.

۳- کلینیک: مرکز صحی است که به منظور عرضۀ خدمات کلینیکی سراپا و مراقبت های کلینیکی اولیه برای

کلینیکي څارنو په منظور فعالیت کوي.

۴- د فزیکي درملنې مرکز: هغه روغتیایي مرکز دی چې ناروغان د مساژ ورکولو، په برېښنا سره درملنې، اوبو سره درملنې (هایدرو تراپي)، جمناستیک او تعقیب په شان فزیکي درملنې سره درمل کېږي.

۵- د رادیولوژۍ مرکز: هغه روغتیایي مرکز دی چې په هغهٔ کې سي تي سکن، Labaratory Catheterization, MRI (Cath- Lab) اکسرې، ډول ډول التراسوند او انژوګرافي په شمول هر ډول طبي او اکسرې تکنالوژۍ عکس اخیستنې صورت مومي.

۶- مالک: هغه حقیقي یا حکمي شخص دی چې خصوصي روغتیایي مرکز د هغهٔ په پانګې سره جوړېږي.

۷- کارکونکي: هغه مسلکي او غیر مسلکي اشخاص (متخصصین، طبیبان، مسلکي، اداري او خدماتي کارکونکي) دي چې په خصوصي روغتیایي مرکز کې دنده ترسره کوي.

۸- د فعالیت جواز: هغه لیکلی رسمي سند دی چې ددې مقررې د حکمونو

نیازمندان فعالیت می نماید.

۴- مرکز تداوی فزیکی: مرکزصحی است که مریضان به وسیلهٔ تداوی فزیکی از قبیل مساژ دادن، تداوی با برق، تداوی با آب ( هایدروتراپی)، جمناستیک و تعقیب، تداوی می گردند.

۵- مرکز رادیولوژی: مرکز صحی است که در آن انواع عکس برداری طبی و تکنالوژی اکسری به شمول سی تی سکن، MRI، Labaratory Catheterization (Cath-Lab)اکسری، انواع التراسوند و انژوگرافی صورت می گیرد.

۶- مالک: شخص حقیقی یا حکمی است که مرکز صحی خصوصی به سرمایهٔ وی ایجاد می گردد.

۷- کارکنان: اشخاص مسلکی و غیر مسلکی (متخصصین، طبیبان، کارکنان مسلکی، اداری وخدماتی) اند که در مرکز صحی خصوصی انجام وظیفه می نمایند.

۸- جواز فعالیت: سند رسمی کتبی است که مطابق احکام این مقرره از طرف

مطابق د عامې روغتيا وزارت لخوا مالک ته صادرېږي.

۹- کلينيکي خدمتونه: داخله او جراحي ډول ډول خدمتونه (دسپلينونه) دي.

۱۰- حمايتي (پارا کلينيکي او تشخيصي) خدمتونه:راديولوژي، لابراتوار، د زړۀ ډول ډول برېښنايي ګراف (ECG) او دماغ (EEG)، ډول ډول اندسکوپي، فارمسي او هغو ته ورته خدمتونه دي.

۱۱- تقويتي خدمتونه:پخلنځای، د کثافاتو د دفع، اوبورسولو سيستم، (کاناليزاسيون) ساتنه او څارنه، اجسادوته خدمتونه، ترانسپورت او دوبي خونه او د اړيکيو سيستم، تسخين او تهويه دي.

۱۲- د اعتبار ورکونې سند: هغه رسمي سند دی چې د روغتيايي خدمتونو د وړاندې کولو د کميت او کيفيت له ارزونې وروسته، خصوصي روغتيايي مرکزته ورکول کېږي.

وزارت صحت عامه به مالک صادر می گردد.

۹-خدمات کلینیکی: شامل انواع مختلف خدمات (دسپلین های) داخله و جراحی می باشد.

۱۰-خدمات حمایتی (پاراکلینیکی و تشخیصی): شامل رادیولوژی، لابراتوار، انواع گراف برقی قلب (ECG) و دماغ (EEG)، انواع خدمات اندسکوپی، فارمسی و امثال آن می باشد.

۱۱-خدمات تقویتی: شامل مطبخ، دفع کثافات، سیستم آبرسانی (کانالیزاسیون)، حفظ و مراقبت، خدمات برای اجساد، ترانسپورت و دوبی خانه و سیستم ارتباط، تسخین و تهویه می باشد.

۱۲- سند اعتباردهی: سند رسمی است که بعد از ارزیابی کمیت و کیفیت عرضۀ خدمات صحی برای مرکزصحی خصوصی اعطاء می گردد.

**د تطبيق ساحه**

**څلورمه ماده:**

ددې مقررې حکمونه د هېواد په سطح پر ټولو خصوصي روغتيايي مرکزونو باندې د تطبيق وړ دي.

## دوه يم فصل

## د خصوصي روغتيايي مرکزونو جوړول

**د مالک شرايط**

**پنځمه ماده:**

(۱) کورني او بهرني حقيقي او حکمي اشخاص کولای شي، خصوصي روغتيايي مرکزونه جوړ کړي چې د لاندې شرايطو لرونکي وي:

۱- حقيقي اشخاصو ته د اتلس کلني سن بشپړول.

۲- د جنايت په جرم نه محکوميت.

۳- د نېک شهرت لرل.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي اشخاص ددې مقررې د حکمونو او د عامې روغتيا وزارت د معيارونو په

**ساحۀ تطبيق**

**مادۀ چهارم:**

احکام اين مقرره بالای تمام مراکز صحی خصوصی درسطح کشور، قابل تطبيق می باشد.

## فصل دوم

## ايجاد مراکز صحی خصوصی

**شرايط مالک**

**مادۀ پنجم:**

(۱) اشخاص حقيقی و حکمی داخلی و خارجی می توانند، مراکزصحی خصوصی را ايجاد نمايند که واجد شرايط ذيل باشند:

۱- اکمال سن هجده سالگی برای اشخاص حقيقی.

۲- عدم محکوميت به جرم جنايت.

۳- داشتن شهرت نيک.

(۲) اشخاص مندرج فقرۀ (۱) اين ماده به رعايت احکام اين مقرره و معيارهای وزارت صحت عامه مکلف می

رعايتولو مکلف دي.

## د جوړولو شرايط

**شپږمه ماده:**

(۱) کورني او بهرني حقيقي او حکمي اشخاص کولای شي، عمومي يا اختصاصي روغتون په لاندې شرايطو سره جوړ کړي:

۱- د عامې روغتيا وزارت ته د غوښتنليک وړاندې کول.

۲- د پانګونې د جواز لرل.

۳- د اړتيا وړ بانکي مالي وجوهو د سندونو وړاندې کول.

۴- د فعاليت د ډول (عمومي يا اختصاصي) يادول.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي حقيقي او حکمي اشخاص مکلف دي، دوه ميليونه او پنځه سوه زره (۲۵۰۰۰۰۰) افغانۍ يا د هغو معادل مبلغ د ملکيت د سند د تضمين په توګه د هېواد له بانکونو څخه په يوۀ کې تحويل کړي.

(۳) د خصوصي روغتون د فعاليت د

باشند.

## شرايط ايجاد

**مادۀ ششم:**

(۱) اشخاص حقيقى و حکمى داخلى و خارجى مى توانند، شفاخانۀ عمومى يا اختصاصى را تحت شرايط ذيل ايجاد نمايند:

۱- ارايۀ درخواست به وزارت صحت عامه.

۲- داشتن جواز سرمايه گذارى.

۳- ارايۀ اسناد وجوه مالى بانکى مورد نياز.

۴- ذکر نوع فعاليت (عمومى يا اختصاصى).

(۲) اشخاص حقيقى و حکمى مندرج فقرۀ (۱) اين ماده مکلف اند، مبلغ دو ميليون وپنجصد هزار (۲۵۰۰۰۰۰) افغانى يا معادل آن سند ملکيت را طور تضمين دريکى از بانک هاى کشور تحويل نمايند.

(۳) حق الامتياز جواز فعاليت

جواز حق الامتیاز، د لازمو آسانتیاوو له په پام کې نیولو سره په لاندې توګه ټاکل کیږي:

۱- له پنځوسو (۵۰) څخه د زیاتو بسترونو عمومي روغتونونه، یو میلیون (۱۰۰۰۰۰۰) افغانۍ.

۲- له دیرشو (۳۰) څخه د زیاتو بسترونو عمومي روغتونونه، اووه سوه پنځوس زره (۷۵۰۰۰۰) افغانۍ.

۳- له شلو (۲۰) څخه د زیاتو بسترونو عمومي روغتونونه، پنځه سوه زره (۵۰۰۰۰۰) افغانۍ.

۴- اختصاصي روغتونونه،درې سوه پنځوس زره (۳۵۰۰۰۰) افغانۍ.

(۴) کورني او بهرني حقیقي او حکمي اشخاص کولای شي کلینیک، د رادیولوژۍ مرکز او د فزیکي درملنې مرکز ددې مادې په (۱) فقره کې پر درج شوو شرایطو برسیره تر دغو شرایطو لاندې جوړ کړي:

۱- د هیواد له بانکونو څخه په یوهٔ کې د تضمین په توګه د یو میلیون او پنځه سوه زره (۱۵۰۰۰۰۰) افغانیو یاد هغه

شفاخانهٔ خصوصی بانظرداشت تسهیلات لازم حسب ذیل تعیین می گردد:

۱- شفاخانه های عمومی بیشتر از پنجاه (۵۰) بستر، مبلغ یک میلیون (۱۰۰۰۰۰۰) افغانی.

۲- شفاخانه های عمومی بیشتر از سی (۳۰) بستر، مبلغ هفتصدو پنجاه هزار (۷۵۰۰۰۰) افغانی.

۳- شفاخانه های عمومی بیشتر از بیست (۲۰) بستر، مبلغ پنجصد هزار (۵۰۰۰۰۰) افغانی.

۴- شفاخانه های اختصاصی، مبلغ سه صدوپنجاه هزار (۳۵۰۰۰۰) افغانی.

(۴) اشخاص حقیقی وحکمی داخلی و خارجی می توانند، کلینیک، مرکز رادیولوژی و مرکز تداوی فزیکی را علاوه برشرایط مندرج فقرهٔ (۱) این ماده تحت شرایط ذیل ایجاد نمایند:

۱- تحویل مبلغ یک میلیون و پنجصد هزار (۱۵۰۰۰۰۰) افغانی یا معادل آن سند ملکیت طور تضمین در یکی ازبانک

معادل د ملکيت د سند تحويلول.

۲- د دوه سوه زره (۲۰۰۰۰۰) افغانيو د حق الامتياز ورکول.

(۵) مالک کولای شي، بل خصوصي روغتيايي مرکز تر عين نامه لاندې د عددونو يا د ځای د نوم په زياتولو سره په ولايتونو او نورو ځايونو کې جوړ کړي، پدې شرط چې د فعاليت جلا جواز ددې مادې په (۲، ۳ او ۴) فقرو کې د درج شوو حکمونو له په پام کې نيولو سره ترلاسه کړي.

## د روغتونونو تصنيف

اوومه ماده:

(۱) خصوصي روغتونونه، د خدمتونو د وړاندې کولو له لحاظه په دوو عمومي او اختصاصي ډولونو باندې تصنيفيږي.

(۲) عمومي روغتون: هغه روغتون دی چې کلينيکي خدمتونه د بستر د ننه او د پښو په سر(سراپا) په ډول او د اړتيا وړ حمايتي او تقويتي خدمتونه وړاندې کوي.

(۳) اختصاصي روغتون: هغه روغتون دی چې يو يا دوه ډوله مرتبط اختصاصي

های کشور.

۲- پرداخت حق الامتياز مبلغ دوصد هزار (۲۰۰۰۰۰) افغانی.

(۵) مالک می تواند، مرکز صحی خصوصی ديگر را تحت عين نام با ايزاد اعداد يا اسم محل در ولايات و ساير محلات ايجاد نمايد، مشروط بر اينکه جواز فعاليت جداگانه را با رعايت احکام مندرج فقره های (۲،۳ و۴ ) اين ماده کسب نمايد.

## تصنيف شفاخانه ها

مادۀ هفتم:

(۱) شفاخانه های خصوصی از لحاظ عرضۀ خدمات بدو بخش عمومی و اختصاصی تصنيف می گردند.

(۲) شفاخانۀ عمومی: شفاخانۀ است که خدمات کلينيکی را به طور داخل بستر و سراپا وخدمات حمايتی و تقويتی مورد نياز را عرضه می نمايد.

(۳) شفاخانۀ اختصاصی: شفاخانۀ است که يک يا دو نوع خدمات اختصاصی

خدمتونه وړاندې کوي.

## عمومي روغتون

**اتمه ماده:**

عمومي روغتونونه د لازمو آسانتياوو له په پام کې نيولو سره په لاندې توګه تصنيفيږي:

۱- له پنځوسو (۵۰) بسترونو څخه زيات عمومي روغتون په لاندې شرايطو سره جوړيږي:

- د عمومي داخلي، عمومي جراحۍ، نسايي ولادي، د اطفالو د داخلي، د اطفالو د جراحۍ، اورتوپيدي، جلدي، عقلي او عصبي، سترګو او غوږونو اوستوني د سرويسونو لرل.
- د عمومي داخلي، عمومي جراحۍ، نسايي ولادي، اطفالو، اورتوپيدي، جلدي، عقلي او عصبي او د سترګو، غوږونو اوستوني د متخصصينو لرل.
- هغه متخصصين چې د ثانوي او ثالثي خدمتونو د وړاندې کولو مستقيم مسئوليت ولري او په يوۀ دولتي يا خصوصي روغتون کې لږ ترلږۀ د څلورو

مرتبط را عرضه می نماید.

## شفاخانۀ عمومی

**مادۀ هشتم:**

شفاخانه های عمومی بانظرداشت تسهیلات لازم حسب ذیل تصنیف می گردند:

۱- شفاخانه عمومی بیشتر از پنجاه (۵۰) بستر تحت شرایط ذیل ایجاد می گردد:

- داشتن سرویس های داخلۀ عمومی، جراحی عمومی، نسایی ولادی، داخلۀ اطفال، جراحی اطفال، اورتوپیدی، جلدی، عقلی وعصبی، چشم و گوش و گلو.
- داشتن متخصصین داخله عمومی، جراحی عمومی، نسایی ولادی، اطفال، اورتوپیدی، جلدی، عقلی وعصبی، چشم و گوش وگلو.
- متخصصینی که مسئولیت مستقیم عرضۀ خدمات ثانوی و ثالثی را داشته و دارای حد اقل چهارسال تجربۀ کاری دریکی از شفاخانه های دولتی یا

کلونو کاري تجربې لرونکي وي.

– د عامې روغتيا وزارت د معيارونو مطابق د مناسبې ودانۍ لرل.

– د سمبالې بيړنۍ (عاجلې) څانګې لرل.

– د زړۀ د ګراف (ECG) او دماغ (EEG) د څانګې لرل.

– د ستندرد خونې سره د اکسرې (X-Ray) د څانګې لرل.

– د زړۀ د جدي څارنې (CCU)، (ICU) او د نوي زیږېدلي (ماشوم) د ټينګې څارنې د څانګې لرل.

– د زړۀ د تلويزيوني کتنو (ايکوکارديو ګرافي) د څانګې لرل.

– د سي تي سکن (C-T- Scan) د څانګې لرل.

– د ام آر آی (MRI) د څانګې لرل.

– د ديالايسس (Dialysis) د څانګې لرل.

– د انژوګرافۍ د څانګې لرل.

– د التراسوند او دوپلر (Duppler) د څانګې لرل.

– د مور او نوي زیږېدلي (ماشوم) د ټينګو څارنو د خدمتونو لرل.

خصوصی باشند.

– داشتن تعمير مناسب مطابق معيارهای وزارت صحت عامه.

– داشتن شعبۀ عاجل مجهز.

– داشتن شعبۀ گراف قلب (**ECG**) ودماغ (**EEG**).

– داشتن شعبۀ اکسری ( **X-Ray** ) با اتاق ستندرد.

– داشتن شعبۀ مراقبت جدی قلبی (**CCU**)،(**ICU**) ومراقبت جدی نوزاد.

– داشتن شعبۀ معاينات تلويزيونی قلب (ايکوکارديو گرافی).

– داشتن شعبۀ سی تی سکن ( **C-T scan**).

– داشتن شعبۀ ام آر آی (**MRI**).

– داشتن شعبۀ ديالايسس (**Dialysis**).

– داشتن شعبۀ انژو گرافی.

– داشتن شعبۀ التراسوند و دوپلر (**Duppler**).

– داشتن خدمات مراقبت های جدی مادر و نوزاد.

– د اندسکوپي د څانګې لرل.

– د لومړۍ درجې لابراتوار د څانګې لرل.

– د سمبالې فزيوتراپۍ د څانګې لرل.

– د واکسين د څانګې لرل.

– د اي تي تي (ETT) د څانګې لرل.

–د پلمونري فنکشن تست (Pulmonary Function Test) د څانګې لرل.

– د کنفرانس د خونې لرل.

– په (۲۴) ساعته توګه د لومړنيو او حياتي مرستو په ټولو وسايلو او تجهيزاتو سمبال، دريو عرادو امبولانسونو لرل، د امکان په صورت کې د هوايي امبولانس لرل.

– په (۲۴)ساعته توګه د درملتون لرل.

– په ټاکلو او مشخصو سرويسونو کې د اړتيا وړ درملو شتون.

– د دايماً فعالې بريښنا لرل.

– د هوا د سړوونکو او تودوونکو وسايلو لرونکو خونو لرل.

– د اورلګېدنې (حريق) د وژلو د وسايلو او د بيړنۍ وتنې د لارې لرل.

– داشتن شعبۀ اندسکوپی.

– داشتن شعبۀ لابراتوار درجه اول.

– داشتن شعبۀ فزيوتراپی مجهز.

– داشتن شعبۀ واکسين.

– داشتن شعبۀ ای تی تی (ETT).

– داشتن شعبۀ پلمونری فنکشن تست (Pulmonary Function Test).

– داشتن اتاق کنفرانس.

–داشتن سه عراده امبولانس طور (۲۴) ساعته، مجهز با تمام وسايل و تجهيزات کمک های اوليه وحياتی، درصورت امکان داشتن امبولانس هوائی.

– داشتن دواخانه طور (۲۴) ساعته.

– موجوديت ادويه جات مورد نياز و ضرورت درسرويس های معين و مشخص.

– داشتن برق دايماً فعال.

– داشتن اتاق های دارای وسايل سردکننده و گرم کنندۀ هوا.

– داشتن وسايل اطفای حريق و راه خروجی عاجل.

- د شنې ساحې لرل.
- د عصري تشنابونو لرل.
- د درملو او طبي لوازمو د زېرمتون لرل.
- د لږترلږه (۲۵) نقليه واسطو لپاره د پارکنګ لرل.
۲- له دېرشو (۳۰) څخه د زياتو بسترونو عمومي روغتونونه، په لاندې شرايطو سره جوړېږي:
- د عمومي داخلې، عمومي جراحۍ، نسايي ولادي، د اطفالو د داخلې، اورتوپيدي او غوږ اوستوني د سرويسونو لرل.
- د عمومي داخلې، عمومي جراحۍ، نسايي ولادي، د اطفالو د داخلې او اورتوپيدي متخصصينو لرل.
- هغه مختصصين چې د ثانوي او ثالثو خدمتونو د وړاندې کولو مستقيم مسئوليت ولري او په يوۀ دولتي او يا خصوصي روغتون کې لږ ترلږۀ د درېو کلونو کاري تجربې لرونکي وي.
- د عامې روغتيا وزارت د معيارونو مطابق د مناسبې ودانۍ لرل.

- داشتن ساحۀ سبز.
- داشتن تشناب های عصری.
- داشتن ديپوی ادويه ولوازم طبی.
- داشتن پارکنگ برای حداقل (۲۵) عراده واسطۀ نقليه.
۲- شفاخانه های عمومی بيشتر از سی (۳۰) بستر، تحت شرايط ذيل ايجاد می گردد:
- داشتن سرويس های داخلۀ عمومی، جراحی عمومی، نسايی ولادی، داخلۀ اطفال، اورتوپيدی و گوش وگلو.
- داشتن متخصصين داخلۀ عمومی، جراحی عمومی، نسايی ولادی، داخلۀ اطفال و اورتوپيدی.
- متخصصينی که مسئوليت مستقيم عرضۀ خدمات ثانوی و ثالثی را داشته و دارای حد اقل سه سال تجربۀ کاری در يکی از شفاخانه های دولتی وياخصوصی باشند.
- داشتن تعمير مناسب مطابق معيارهای وزارت صحت عامه.

- د سمبالې بیړنۍ (عاجلې) خونې لرل.
- د زړهٔ د ګراف (ECG) او دماغ (EEG) د څانګې لرل.
- له ستندرد خونې سره د اکسرې (X-Ray) د څانګې لرل.
- د زړهٔ د جدي څارنې (CCU)، (ICU) د جدي او د نوې زیږیدلې ماشوم د جدي څارنې د څانګې لرل.
- د زړهٔ د تلویزیوني کتنو (ایکو کاردیوګرافۍ) د څانګې لرل.
- د دیالایسس (Dialysis) د څانګې لرل.
- د التراسوند د څانګې لرل.
- د اندسکوپي د څانګې لرل.
- د دوه یمې درجې لابراتوار د څانګې لرل.
- د فزیوتراپۍ د سمبالې څانګې لرل.
- د اي تي تي (ETT) د څانګې لرل.
- په (۲۴) ساعته توګه د لومړنیو او حیاتي مرستو په ټولو تجهیزاتو او وسایلو سمبال دوو عرادو امبولانسونو لرل.
- د لږترلږه (۱۵) عرادو نقلیه واسطو لپاره د پارکنګ لرل.

- داشتن شعبهٔ عاجل مجهز.
- داشتن شعبهٔ گراف قلب (**ECG**) و دماغ(**EEG**).
- داشتن شعبهٔ اکسری ( **X-Ray** ) با اتاق ستندرد.
- داشتن شعبهٔ مراقبت جدی قلبی (**CCU**)، (**ICU**) و مراقبت جدی نوزاد.
- داشتن شعبهٔ معاینات تلویزیونی قلب (ایکوکاردیو گرافی).
- داشتن شعبهٔ دیالایسس (**Dialysis**).
- داشتن شعبهٔ التراسوند.
- داشتن شعبهٔ اندسکوپی.
- داشتن شعبهٔ لابراتوار درجه دوم.
- داشتن شعبهٔ فزیوتراپی مجهز.
- داشتن شعبهٔ ای تی تی (**ETT**).
- داشتن دوعراده امبولانس طور (۲۴) ساعته، مجهز با تمام وسایل وتجهیزات کمک های اولیه وحیاتی.
- داشتن پارکنگ برای حداقل (۱۵) عراده واسطهٔ نقلیه.

– په (۲۴) ساعته توګه د درملتون لرل.
– په ټاکلو او مشخصو سرويسونو کې د اړتيا وړ درملو شتون.
– د دايماً فعالي برېښنا لرل.
– د هوا د سړوونکو او تودوونکو وسايلو لرونکو خونو لرل.
– د اور وژنې د وسايلو او د بيړنۍ وتنې د لارې لرل.
– د شنې ساحې لرل.
– د درملو او طبي وسايلو د زېرمتون لرل.
– د عصري تشنابونو لرل.

۳– له شلو (۲۰) څخه د زياتو بسترونو عمومي روغتونونه په لاندې شرايطو سره جوړېږي:
– د عمومي داخلې، عمومي جراحۍ، نسايي ولادي او د اطفالو د داخلې د سرويسونو لرل.
– د عمومي داخلې، عمومي جراحۍ، نسايي ولادي او د اطفالو د داخلې د متخصصينو لرل.
– هغه متخصصين چې د ثانوي او ثالثو

–داشتن دواخانه طور (۲۴) ساعته.
–موجوديت ادويه جات مورد نياز و ضرورت درسرويس های معين و مشخص.
– داشتن برق دايماً فعال.
– داشتن اتاق های دارای وسايل سردکننده و گرم کنندهٔ هوا.
– داشتن وسايل اطفای حريق و راه خروجی عاجل.
– داشتن ساحهٔ سبز.
– داشتن ديپوی ادويه ولوازم طبی.
– داشتن تشناب های عصری.

۳– شفاخانه های عمومی بيشتر از بيست (۲۰) بستر تحت شرايط ذيل ايجاد می گردد:
– داشتن سرويس های داخلهٔ عمومی، جراحی عمومی، نسايی ولادی و داخلهٔ اطفال.
–داشتن متخصصين داخلهٔ عمومی، جراحی عمومی، نسايی ولادی و داخلهٔ اطفال.
– متخصصينی که مسئوليت مستقيم

خدمتونو د وړاندې کولو مستقيم مسئوليت ولري او په يوۀ دولتي او يا خصوصي روغتون کې لږترلږۀ د دوو کلونو کاري تجربې لرونکي وي.

- د عامې روغتيا وزارت د معيارونو مطابق د مناسبې ودانۍ لرل.

- د سمبالې بيړنۍ څانګې لرل.

- د زړۀ د ګراف (ECG) او دماغ (EEG) د څانګې لرل.

- له ستندرد خونې سره د اکسرې (X-Ray) د څانګې لرل.

- د زړۀ د جدي څارنې (CCU)، (ICU) او د نوي زيږيدلي (ماشوم) د جدي څارنې د څانګې لرل.

- د التراسوند د څانګې لرل.

- د دوه يمې درجې لابراتوار د څانګې لرل.

- د فزيوتراپۍ د سمبالې څانګې لرل.

- په (۲۴) ساعته توګه د لومړنيو او حياتي مرستو په وسايلو سمبال يوۀ عراده امبولانس لرل.

- د لږترلږه (۱۰) عرادو نقليه واسطو لپاره د پارکنګ لرل.

عرضۀ خدمات ثانوی و ثالثی را داشته و دارای حد اقل دوسال تجربۀ کاری دریکی از شفاخانه های دولتی ویا خصوصی باشند.

- داشتن تعمير مناسب مطابق معيارهای وزارت صحت عامه.

- داشتن شعبۀ عاجل مجهز.

- داشتن شعبۀ گراف قلب (**ECG**) و دماغ (**EEG**).

- داشتن شعبۀ اکسری( **X-Ray** ) با اتاق ستندرد.

- داشتن شعبۀ مراقبت جدی قلبی (**CCU**)، (**ICU**) و مراقبت جدی نوزاد.

- داشتن شعبۀ التراسوند.

- داشتن شعبۀ لابراتوار درجه دوم.

- داشتن شعبۀ فزيوتراپی مجهز.

- داشتن يک عراده امبولانس طور (۲۴) ساعته، مجهز با تمام وسايل و تجهيزات کمک های اوليه وحياتی.

- داشتن پارکنگ برای حداقل (۱۰) عراده واسطۀ نقليه.

– په (۲۴) ساعته توګه د درملتون لرل.
– په تاکلو او مشخصو سرویسونو کې د اړتیا وړ درملو شتون.
– د دایماً فعالې برېښنا لرل.
– د هوا د سړوونکو او تودوونکو وسایلو لرونکو خونو لرل.
– د اور وژنې د وسایلو او د وتنې د بیړنۍ لارې لرل.
– د عصري تشنابونو لرل.
– د درملو او طبي وسایلو د زېرمتون لرل.

اختصاصي روغتون

نهمه ماده:

اختصاصي روغتونونه د اړوندو څانګو په لرلو سره، ددې مقررې په شپږمه ماده کې د درج شوي حکم او د عامې روغتیا وزارت د معیارونو مطابق جوړېږي او ددې مقررې په اتمه ماده کې له درج شوي حکم څخه مستثنيٰ دي.

–داشتن دواخانه طور (۲۴) ساعته.
–موجودیت ادویه جات مورد نیاز و ضرورت درسرویس های معین و مشخص.
– داشتن برق دایماً فعال.
– داشتن اتاق های دارای وسایل سردکننده و گرم کنندهٔ هوا.
– داشتن وسایل اطفای حریق و راه خروجی عاجل.
– داشتن تشناب های عصری.
– داشتن دیپوی ادویه ولوازم طبی.

شفاخانهٔ اختصاصی

مادهٔ نهم:

شفاخانه های اختصاصی با داشتن شعبات مربوط، بانظرداشت حکم مندرج مادهٔ ششم این مقرره و معیارهای وزارت صحت عامه ایجاد و از حکم مندرج مادهٔ هشتم این مقرره مستثنی می باشند.

**د فعاليت جواز**

**لسمه ماده:**

(۱) د خصوصي روغتيايي مركز د فعاليت جواز د عامې روغتيا وزارت لخوا پـدې مقرره كې د درج شوو شرايطو او د عامې روغتيا وزارت د معيارونو له بشپړېدو وروسته صادرېږي.

(۲) د خصوصي روغتيايي مركز د فعاليت جواز، هر درې كاله، د عـامې روغتيا وزارت لخوا له هر اړخيـزې ارزونـې وروسته ددې مقررې د شپږمې مادې پـه (۳) فقره او د (۴) فقرې په (۲) جزء كې د درج شوي حق الامتياز د نيم مبلغ د وركولو په بدل كې تمديدېږي.

**د اعتبار وركونې سند**

**يوولسمه ماده:**

(۱) خصوصي روغتيايي مركز له هـرو دريو كلونو وروسته د خدمتونو د وړاندې كولو له لحاظه، د عامې روغتيا وزارت د طبي شورې د استازي په شمول له ملي او بين المللي مسلكي اشخاصو څخه د جوړ هيئت په واسطه ارزول كېږي.

**جواز فعاليت**

**مادۀ دهم:**

(۱) جواز فعاليت مركزصحى خصوصى از طرف وزارت صحت عامـه بعـد از تكميل شرايط منـدرج ايـن مقـرره و معيارهاى وزارت صحت عامـه صـادر مى گردد.

(۲)جواز فعاليت مركز صحى خصوصى درختم هر سه سال بعد از ارزيابى همـه جانبه توسـط وزارت صـحت عامـه دربدل پرداخت نصف مبلغ حق الامتياز مندرج فقـرۀ (۳) و جـزء (۲) فقـرۀ (۴) مادۀ ششم ايـن مقـرره تمديـد مى گردد.

**سند اعتباردهى**

**مادۀ يازدهم:**

(۱) مركز صحى خصوصى بعد از هر سه سال از لحاظ كميت وكيفيـت عرضـۀ خدمات توسط هيئت مركب از اشخاص مسلكى ملى وبين المللى به شمول نمايندۀ شوراى طبى وزارت صحت عامه ارزيابى مى گردد.

(۲) د خصوصي روغتیايي مرکز مالک، رئیس او مسئول نشي کولای، ددې مادې په (۱) فقره کې د ارزونې د درج شوي هیئت غړی وي.

(۳) که چېرې خصوصي روغتیايي مرکز د روغتیايي خدمتونو د وړاندې کولو د کمیت او کیفیت له لحاظه مثبت وارزول شي، د اعتبار ورکونې سند د اړوندې کړنلارې مطابق ورکول کېږي، پرته لدې د خصوصي روغتیايي مرکز د فعالیت جواز سلبېږي.

د رئیس استخدام

دوولسمه ماده:

(۱) خصوصي روغتون د رئیس لرونکی وي او هغه شخص د هغهٔ د رئیس په توګه استخدامېدای شي چې د لاندې شرایطو لرونکی وي:

۱- د طبي لوړو زده کړو د سند لرل.

۲- په یوهٔ دولتي یا خصوصي روغتون کې د طبابت په ساحه کې لږترلږهٔ د پنځو کلونو کاري تجربې لرل.

۳- د دېرش کلني سن بشپړول.

(۲) مالک، رئیس و مسئول مرکز صحی خصوصی نمی تواند عضو هیئت ارزیابی مندرج فقرهٔ (۱) این ماده باشد.

(۳) هرگاه مرکز صحی خصوصی از لحاظ کمیت وکیفیت عرضهٔ خدمات صحی مثبت ارزیابی گردد، سند اعتباردهی طبق طرزالعمل مربوط برایش اعطاء می گردد، درغیر آن جواز فعالیت مرکز صحی خصوصی سلب می گردد.

استخدام رئیس

مادهٔ دوازدهم:

(۱) شفاخانه خصوصی دارای رئیس می باشد و شخصی به حیث رئیس آن استخدام می گردد که واجد شراط ذیل باشد:

۱- داشتن سند تحصیلات عالی طبی.

۲- داشتن تجربهٔ کاری حداقل پنج سال درساحهٔ طبابت دریکی از شفاخانه های دولتی یا خصوصی.

۳- اکمال سن سی سالگی.

۴- د کمپیوتر پروګرامونو ته لاسرسي.
۵- د واکمنې محکمې په حکم له مدني حقوقو څخه نه محرومیت.
٦- په جنایت یا اخلاقي جرمونـــو نــه محکومیت.
(۲) رئیس د خصوصي روغتون د ټولـــو چارو د پرمخبیولو مسئول دی.
(۳) د خصوصي روغتون د دیپارټمنټونو مسئولین، په خپلو اړوندو رشتو (څانګو) کې د تخصصي یا فوق تخصصي علمـــي درجې لرونکي وي.
(۴) د خصوصي روغتون مالک په هغـــهٔ صورت کې کولای شي د اړوند روغتون رئیس وي چې ددې مادې په (۱) فقـــره کې د درج شوو شرایطو لرونکی وي.

## د مسئول استخدامول

**دیارلسمه ماده:**

کلینیک، د رادیولوژۍ مرکز او د فزیکي درملنې مرکز د مسئول لرونکـــي وي او هغه شخص د هغهٔ د مسئول پـــه توګـــه اســـتخدامیږي چـــې ددې مقـــررې د دوولسمې مادې د (۱) فقرې په ( ۲، ۳،

۴- دسترسی به پروگرام های کمپیوتر.
۵- عدم محرومیت ازحقوق مدنی بـــه حکم محکمهٔ باصلاحیت.
٦- عدم محکومیت به جنایت یا جرایم اخلاقی.
(۲) رئیس مسئول پیشبرد کلیـــه امـــور شفاخانهٔ خصوصی می باشد.
(۳) مسئولین دیپارتمنت های شـــفاخانهٔ خصوصی در رشتهٔ مربوط شـــان دارای درجهٔ علمی تخصصی یا فوق تخصـــصی باشند.
(۴) مالـــک شـــفاخانهٔ خـــصوصی در صورتی می تواند رئیس شفاخانهٔ مربوط باشد که واجد شرایط مندرج فقرهٔ (۱) این ماده باشد.

## استخدام مسئول

**مادهٔ سیزدهم:**

کلینیـــک، مرکـــز رادیولـــوژی و مرکز تـــداوی فزیکـــی دارای مـــسئول می باشد و شخصی به حیـــث مـــسئول آن استخدام می گردد که عـــلاوه بـــر شرایط مندرج اجزای (۲،۳،۴، ۵ و٦)

۴، ۵ او ٦) جزء کې پــر درج شــوو شرايطو برسېره په اړونده څانګه کــې د تحصيلي سند لرونکی وي.

## د مالک مکلفيت

**څوارلسمه ماده:**

د خصوصي روغتيايي مرکز مالک، رئيس او مسئول مکلف دي د فعاليت جواز پاڼه، د روغتيايي مرکز د رئـيس او مــسئول هويت او د تشخيصيه کتنو او درملنې حق الاجرت (فيس) چې د عــامې روغتيـا وزارت د حق الاجرت (فيس) د ټاکلو د کمېسيون لخوا ټاکل شوی، تأييد او مهر شوی وي، په مناسب او د ليدلو وړ ځای کې نصب کړي.

## بدلونونه

**پنځلسمه ماده:**

(۱) د خصوصي روغتيايي مرکز مالــک مکلف دی، په تشخيصيه مدرنو تجهيزاتو، د داخلــه او جراحــۍ پــه خــدمتونو (دسپلينونو) او د روغتونونو په بسترونو کې د کتنې وړ بدلونونو په صورت کې، موضوع د عامې روغتيا وزارت ته خبــر

فقرۀ (۱) مادۀ دوازدهــم ايــن مقــرره دارای سند تحصيلی در رشــتۀ مربــوط باشد.

## مکلفيت مالک

**مادۀ چهاردهم:**

مالک، رئيس و مسئول مرکــز صــحی خصوصی مکلف اند، ورقۀ جواز فعاليت، هويت رئيس و مسئول مرکز صحی و حق الاجرت (فيس) معاينــات تشخيــصيه و تداوی را که از طرف کميسيون تعيــين حق الاجرت (فيس) وزارت صحت عامه تعيين، تأييــد ومهــر گرديــده باشــد، در محل مناسب و قابــل ديــد نــصب نمايد.

## تغييرات

**مادۀ پانزدهم:**

(۱) مالک مرکز صحی خصوصی مکلف اســت، در صــورت تغييــرات قابــل ملاحظه در تجهيزات مدرن تشخيــصيه، خدمات (دسپلين های) داخله و جراحی و بــستر شــفاخانه هــا، موضــوع را بــه وزارت صــحت عامــه اطــلاع

ورکړي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي بدلونونه، پداسې حدکې وي چې د خصوصي روغتونونو تصنيف لوړ بوځي، موضوع د خصوصي روغتون د ارزونې د هيئت د نظر له څرګندونې وروسته بيا تصنيفېږي.

**ګډ (مختلط) روغتون**

**شپاړسمه ماده:**

کورني او بهرني حقيقي او حکمي اشخاص کولای شي، ګډ خصوصي روغتيايي مرکزونه د قانون او دغې مقررې د حکمونو مطابق جوړ کړي، پدې صورت کې پدې مقرره کې د درج شوو شرايطو لرونکو مالکانو څخه يو تن د روغتيايي مرکز د رئيس يا مسئول په توګه ټاکل کېږي او د عامې روغتيا وزارت ته ور پېژندل کېږي.

**د ځای بدلول**

**اوو لسمه ماده:**

د خصوصي روغتيايي مرکز مالک مکلف دی، د لاندې دلايلو له مخې د عامې

دهد.

(۲) هرگاه تغييرات مندرج فقرۀ (۱) اين ماده به حدی باشد که تصنيف شفاخانه های خصوصی را بلند ببرد، موضوع بعد از ابراز نظر هيئت ارزيابی، شفاخانۀ خصوصی مجدداً تصنيف می گردد.

**شفاخانۀ مختلط**

**مادۀ شانزدهم:**

اشخاص حقيقی و حکمی داخلی و خارجی می توانند، مراکز صحی خصوصی مختلط را طبق احکام قانون واين مقرره ايجاد نمايند، دراين صورت يکنفر از مالکين واجد شرايط مندرج اين مقرره به حيث رئيس يا مسئول مرکز صحی تعيين وبه وزارت صحت عامه معرفی می گردد.

**تغيير مکان**

**مادۀ هفدهم:**

مالک مرکز صحی خصوصی مکلف است، بنابر دلايل ذيل بعد از موافقۀ

روغتيا وزارت لــه مــوافقې وروســته خصوصي روغتيايي مرکز بل ځــاى تــه ولېږدوي:

۱- د طبيعي او غير طبيعــي پېــښو د پېښېدو له امله د روغتيايي مرکز د ودانۍ د ويجاړېدو په صورت کې پداسې ډول چې د ګټې اخيستنې وړ نه وي.

۲- د ودانۍ د استملاک په صورت کې.

۳- په کرايي ودانۍ کې د فعاليــت پــه صورت کې.

۴- په هغهٔ صورت کې چې روغتيـــايي مرکز د ودانۍ (ساختمان) لــه نظـــره د روغتيايي خدمتونو د وړاندې کولو لپاره مناسب نه وي.

## درېيم فصل

## استخدام

**د کارکوونکو استخدام**

**اتلسمه ماده:**

(۱) د خصوصي روغتيايي مرکز مالــک مکلف دی، د خصوصي روغتيايي مرکز کارکوونکي، د کار د قــانون، اړونــدو تقنيني سندونو د حکمونــو او د عــامې

وزارت صحت عامــه مرکــز صــحی خصوصـــی را بـــه مـــحل ديگـــر انتقال دهد:

۱- درصورت تخريب تعمير مرکز صحی بالاثر وقوع حوادث طبيعی وغير طبيعی بـــه نحويکـــه غيرقابـــل اســـتفاده باشد.

۲- درصورت استملاک تعمير.

۳- درصــورت فعاليــت در تعميــر کرايی.

۴- در صــورتی کــه مــرکز صحــی خصوصی از نظـــر ســـاختمان جهـــت عرضـــهٔ خـــدمات صـــحی مناســـب نباشد.

## فصل سوم

## استخدام

**استخدام کارکنان**

**مادهٔ هجدهم:**

(۱)مالک مرکـــز صـــحی خـــصوصی مکلف است، کارکنان مرکـــز صـــحی خصوصی را با رعايت احکـــام قـــانون کار، اسناد تقنينی مربوط و معيارهـــای

روغتیا وزارت د معیارونو له په پام کې نیولو سره استخدام کړي.

(۲) د خصوصي روغتیایي مرکز مالک د اړتیا په صورت کې کولای شي د عامې روغتیا وزارت په اجازه ، بهرني متخصصین او طبیبان استخدام کړي.

(۳) د خصوصي روغتیایي مرکز رئیس یا مسئول مکلف دی، د اړوندو کارکوونکو بشپړ سندونه (سوانح، دیپلوم او د کار جواز) وساتي او یوه کاپي یې د عامې روغتیا وزارت ته واستوي.

## د دندې د اجراء په وخت کې نه کار کول

**نولسمه ماده:**

د روغتیایي مرکزونو او نورو دولتي ادارو کارکوونکي نشي کولای په هغو وختونو کې چې په روغتیایي مرکز یا اړونده اداره کې ددندې په اجراء مؤظف وي، په خصوصي روغتیایي مرکز کې کار وکړي.

## د کارکوونکو حقوق

**شلمه ماده:**

(۱) د خصوصي روغتیایي مرکزونو

وزارت صحت عامه استخدام نماید.

(۲) مالک مرکزصحی خصوصی در صورت ضرورت می تواند متخصصین وطبیبان خارجی را به اجازهٔ وزارت صحت عامه استخدام نماید.

(۳) رئیس یا مسئول مرکز صحی خصوصی مکلف است، اسناد مکمل (سوانح، دیپلوم و جواز کار) کارکنان مربوط را حفظ و یک کاپی آنرا به وزارت صحت عامه ارسال نماید.

## کار نکردن در اوقات اجرای وظیفه

**مادهٔ نزدهم:**

کارکنان مراکز صحی وسایر ادارات دولتی نمی توانند در اوقاتیکه به اجرای وظیفه در مرکز صحی یا ادارهٔ مربوط مؤظف می باشند، در مرکز صحی خصوصی کار نمایند.

## حقوق کارکنان

**مادهٔ بیستم:**

(۱)کارکنان مراکز صحی خصوصی با

کارکوونکي د کار د قانون حکمونو ته په پام سره د مناسب مزد مستحق دي چې د اړخونو په ليکلي توافق (قرارداد) ټاکل کېږي او د خصوصي روغتيايي مرکز د مالک لخوا ورکول کېږي.

(۲) د خصوصي روغتيايي مرکز کارکوونکي، د دولتي کارکوونکو په شان د کار په قانون او نورو اړوندو تقنيني سندونو کې د درج د رخصتۍ او تقاعد د حقوقو او نورو امتيازونو مستحق دي.

(۳) د خصوصي روغتيايي مرکز مالک مکلف دی، مخصوصې جامې (يونيفورم) او نورې اړوندې جامې (البسه) د انتان د وقايې او کنترول د ستندرد مطابق د عامې روغتيا وزارت له معيارونو سره سم برابر او تدارک کړي.

(۴) د خصوصي روغتيايي مرکز مالک مکلف دی د خپلو کارکوونکو د حمل او نقل په منظور نقليه وسايط برابر کړي يا مناسبه کرايه ورکړي.

(۵) خصوصي روغتيايي مرکز نشي کولای اړوند برحال کارکوونکي د قانوني دلايلو له شتون او ددې مقررې په دوه

رعايت احکام قانون کار، مستحق مزد مناسب می باشند که به توافق کتبی (قرارداد)طرفين تعيين واز طرف مالک مرکز صحی خصوصی پرداخته می شود.

(۲)کارکنان مرکز صحی خصوصی مانند کارکنان دولتی مستحق حقوق رخصتی و تقاعد و ساير امتيازات مندرج قانون کار و ساير اسناد تقنينی مربوط می باشند.

(۳) مالک مرکز صحی خصوصی مکلف است، لباس مخصوص (يونيفورم) وساير البسهٔ مورد ضرورت را مطابق ستندرد وقايه وکنترول انتان در مطابقت با معيارهای وزارت صحت عامه تهيه و تدارک نمايد.

(۴) مالک مرکز صحی خصوصی مکلف است به منظور حمل و نقل کارکنان خويش وسايط نقليه را فراهم نموده يا کرايهٔ مناسب را بپردازد.

(۵) مرکز صحی خصوصی نمی تواند، کارکنان برحال مربوط را بدون موجوديت دلايل قانونی و فراهم آوری

ويشتمه ماده کې د درج شوي کمېسيون د قناعت له برابرولو پرته له دندې څخه ګوښه کړي.

(۶) د خصوصي روغتيايي مرکز مالــک مکلف دی د کارکوونکو لپاره (ذکورو او اناث) د اباتې لــه لحاظــه د هغــوی د خونديتوب او حرمت د ساتنې په تأمينولو سره مناسب ځای برابر کړي.

